# د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) د اصطلاحاتو پاڼه

دا د اصطلاحاتو پاڼه هغه مهم اصطلاحات تشریح کوي چې د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) کې کارول کیږي. دا ځینې عامې کلمې دي چې تاسو به یې د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه کې واورئ، دا ستاسو لپاره مهمه ده چې په دې کلماتو پوه شئ مخکې له دې چې خپل د SDP سفر پیل کړئ.
د نورو معلوماتو لپاره یا د SDP پیلولو لپاره، خپل د سیمه ییز مرکز د خدماتو همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسئ یا SDPQuestions@altaregional.org ته برېښنالیک واستوئ.

| | |
|---|---|
| اسانتیاوې | هغه بدلونونه چې تاسو سره مرسته کوي ترڅو په بشپړه توګه ګډون وکړئ، لکه رامپونه (د معلولینو لپاره) یا په لویو تورو چاپ. |
| د عمل پلان | د ګامونو یو ساده لیست چې ښیي چې په کومه طریقه هغو هدفونو ته ورسیږئ چې تاسو یې غواړئ او څنګه دغه طریقه عملي کړئ. |
| واک (د SDP اصل) | تاسو د خپلو پیسو او خدماتو کنټرول یعنې واک لرئ. |
| کلتوري تنوع | د بېلابېلو ژبو او کلتورونو درناوی او ارزښت ورکول. |
| ننګونې او خنډونه | هغه ستونزې یا خنډونه چې ستاسو اهدافو ته رسیدل ستونزمن کوي. |
| د ټولنې برخه جوړېدل | د کار، ښوونځي یا فعالیتونو له لارې د خپلې ټولنې یوه برخه جوړېدل. |
| تائید (د SDP اصل) | ستاسو د ځواکمنتیاو پېژندنه او ستاسو د انتخابونو درناوی کېدل. |
| ځانګړې شوې کارګمارنه | یوه دنده چې ستاسو د مهارتونو او لیوالتیاو پر بنسټ ستاسو لپاره جوړه شوې وي. |
| پرېکړه کول | د هغه مرستو چې تاسو ورته اړتیا لرئ، د هغه طریقې چې تاسو پرې ژوند کول غواړئ او ستاسو د پیسو لګولو د څرنګوالي انتخاب کول. |
| عادلانه اورېدنه | یوه پروسه چې له لارې یې تاسو د سیمه ییز مرکز پر هغه پرېکړې اعتراض کوئ چې تاسو ورسره موافق نه یاست. |
| د کورنۍ اهداف | هغه هیلې او خوبونه/ارمانونه چې تاسو یې د خپلې کورنۍ لپاره لرئ. |

| | |
|---|---|
| آزادي (د SDP اصل) | د خپل ژوند کولو د څرنګوالي او د خدمتونو د کارولو په اړه ستاسو د خپلو انتخابونو کولو وړتیا. |
| FMS (د مالي مدیریت خدمت) | یو داسې شرکت چې ستاسو د SDP بودیجې او تادیاتو په اداره کولو کې مرسته کوي. |
| اهداف او خوبونه/ارمانونه | خوبونه/ارمانونه: هغه څه چې تاسو غواړئ په خپل ژوند کې یې ترلاسه کړئ، لکه په کار یا په شخصي ژوند کې. اهداف: ستاسو د خوبونو/ارمانونو د ترلاسه کولو لپاره ګامونه |
| د HCBS حتمي قانون | یو فدرالي قانون چې د هغو خلکو لپاره مساوي حقونه تضمین کوي څوک چې خدمتونه ترلاسه کوي. |
| روغتیا او خوندیتوب | دا ډاډ ترلاسه کول چې تاسو د ورځني ژوند په فعالیتونو کې روغ او خوندي یاست. |
| HIPAA او د روغتیا محرم معلومات | یو داسې قانون چې ستاسو د روغتیا معلومات محرم ساتي. |
| د کور اهداف | د خپلواکه ژوند کولو اهداف، لکه د پخلي زده کول یا ستاسو د کور پاکول. |
| انفرادي بودیجه | د سیمه ییز مرکز لخوا تصویب شویو پیسو ټول مقدار چې تاسو یې هر کال د خدماتو لپاره لرئ. |
| د انفرادي برنامې پلان (IPP) | یو لیکل شوی پلان چې ستاسو اهداف او هغه ملاتړ تشریح کوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. |
| باخبره پرېکړه | د ټولو هغه معلوماتو لرلو پر بنسټ انتخاب کول چې تاسو ورته په خپلو انتخابونو په بشپړه توګه پوهېدو لپاره اړتیا لرئ. |
| د ژوند کولو ترتیبات | تاسو چیرته او څنګه ژوند کوئ، لکه د کورنۍ سره یا په خپله یوازې. |
| بامقصده ژوند | داسې ژوند کول چې تاسو خوشحاله کړي او هغه کارونه ترسره کول چې ستاسو لپاره مهم وي. |
| کوچنی تجارت | یوه کوچنۍ سوداګري چې تاسو یې لرئ او چلوئ. |
| طبیعي ملاتړ: | ستاسو په ژوند کې موجود هغه کسان لکه کورنۍ یا دوستان چې پرته له پیسو له تاسو سره مرسته کوي. |

| | |
|---|---|
| ګډونوال (په SDP کې) | هغه کس چې په SDP کې یې نوم لیکنه شوې وي او خپل خدمات او بودیجه په خپله اداره کوي. |
| د ګډونوال لخوا انتخاب کړل شوي توکي | هغه خدمتونه یا توکي چې تاسو یې د خپل SDP بودیجې له لارې اخلئ ترڅو خپلو اهدافو ته رسېدو کې درسره مرسته وکړي. |
| شخصي اهداف | هغه اهداف چې پر هغه څه متمرکز وي چې تاسو یې ترلاسه کول غواړئ، لکه د دندې موندل یا د نویو مهارتونو زده کول. |
| پر فرد تمرکز کوونکی پلان (PCP) | یو داسې پلان چې ستاسو په اهدافو او ترجیحاتو تمرکز کوي ترڅو ستاسو ملاتړ ته لارښوونه وکړي. |
| د PCP راپور | یو سند چې ستاسو د پر فرد تمرکز کوونکي پلان لنډیز وي. |
| سیمه ییز مرکز | یو ټولنیز سازمان چې تاسو سره خدمتونو او ملاتړ ته په لاسرسي موندلو کې مرسته کوي. |
| سرچینې | هغه سازمانونه، خدمتونه او مرستې چې تاسو سره ستاسو اهدافو ته په رسیدو کې مرسته کوي. |
| مسؤلیت (د SDP اصل) | په SDP کې، تاسو د خپلو خدماتو او بودیجې د سمبالولو مسؤلیت لرئ. |
| د SDP د پېژندنې او لارښوونې مراسم | هغه روزنه چې دا تشریح کوي چې SDP څنګه کار کوي او ستاسو مسؤلیتونه تشریح کوي. |
| د خپلواکو پرېکړو نیولو قانون SB468 | د کالیفورنیا (California) یو قانون چې د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه یې جوړه کړې ده. |
| د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) | یو د سیمه ییز مرکز برنامه چې تاسو ته ستاسو پر خدماتو او بودیجې کنټرول یعني واک درکوي. |
| د خپلواکو پرېکړو نیولو د برنامې انتقال | د سیمه ییز مرکز د خدماتو دودیز (یعني عادي) سیسټم څخه د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) ته انتقالېدل. |
| خدمات وړاندې کوونکی | یو شخص یا شرکت چې هغه خدمتونه وړاندې کوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. |
| د خدماتو همغږي کوونکی | په سیمه ییز مرکز کې موجود یو کس چې ستاسو د خدماتو او ملاتړ په پلان کولو کې درسره مرسته کوي. |

| | |
|---|---|
| ځواکمنتیاوي | هغه ځانګړې وړتیاوې چې تاسو پکې ماهر یاست یا هغه تاسو یو ځانګړی شخص جوړوي. |
| ملاتړي کارکوونکی | هغه خلک چې ستاسو په خدمتونو کې تاسو سره مرسته کوي، لکه پاملرنه کوونکي یا د دندې روزونکي. |
| د ملاتړ روزونکی او د ژوند روزونکی | هغه کس چې له تاسو سره ستاسو اهدافو ته په رسېدو کې او ستاسو ژوند ښه کولو کې درسره مرسته کوي. |
| اړین ملاتړونه | هغه مرسته چې تاسو خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره ورته اړتیا لرئ، لکه شخصي پاملرنه یا د دندې اړوند ملاتړ. |
| د سیمه ییز مرکز دودیز (یعني عادي) سیستم | د سیمه ییز مرکز عمومي سیستم چیرې چې تاسو اړ یاست چې د سیمه ییز مرکز پلورونکو/خدمات وړاندې کوونکو څخه کار واخلئ. |



د خپلواکو پرېکړو نیولو
ځواک فعال کړئ!

د ALTA REGIONAL CENTER د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SELF-DETERMINATION PROGRAM) سیمه ییزې مشورتي کمیټې (LOCAL ADVISORY COMMITTEE) لخوا تمویل شوی SDPQUESTIONS@ALTAREGIONAL.ORG

د خپلواکو اسانتیا برابرونکو د روزنې اکاډمی په همکاری سره WWW.IFTRAININGACADEMY.COM